مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۳/۰۲

د یوه صداقتمند امانیست مبارز سید فضل واحد تورنګزي اړوند دا کتاب

دا تاریخي کتاب، چې دلته تقدیم کیږي، څه موده پخواء زمونږ د ګران افغانستان د یوه نامتو استعمار ضد مبارز سید فضل واحد خان مشهور په «حاجي صاحب د ترنګزو» یوه لمسي، د پشتونخواء ځخه ماته راولیږه. دا کتاب ما لومړی ځل ولید او په خاصه اماني مینه مي مطالعه مي کړ. د فرنګي استعمار ضد دغه متعهد مبارز زمونږ د ګران افغانستان د سیاسي استقلال د حصول د سروال، اعلیحضرت غازي امان الله خان (علیه الرحمه) یو باوري او مُخلص یار او ورته هغه شان ملګرئ ؤ، چې د خپل مبارز ژوند تر پایه ورته وفادار پاته سو او لکه یوه منور مسلمان یې د مشر غازي د لسو کلونو امارت، ټول ملتپال خذمتونه تایید او تمجید کول. په کتاب کې تاسو لولی، چې د حاجي هغه بنسټیز مرام او هدف د ګران لراو بر افغانستان ځخه د فرنګي شړل او افغانان د علم او معرفت او په اصلي اسلام پوهول او سمبالول ول. زه لیکونکی په کال ۱۹۹۸ز د حاجي صاحب د مبارزو مورچل یا استوګنځي ته د جناب د لمسي سید بشیر احمد خان سره د پشتونخواء شمال د مهمندو د علاقې د (غازي آباد) تاریخي مقام ته ولاړم، د دغه د آزادي او عدالت د عظیم مجاهد زیارت ته مي دعا وکړله او په سبا یې ببرته پیښورته راغلم. د کتاب مشخصات ځه داسي دي:

د کتاب نوم: علیه الرحمه
لیکونکی: نصر الله خان نصر
سلسله اولیاء صوبه سرحد: (۳)
د ادبي ټولی صوبه سرحد اشاعت سلسله کي (۱۲)
طبع کتاب: مارچ ۱۹۵۱ز کال
کتاب د لوستو له پاره دلته کلیک کړی
شمېر: ۱۰۰۰
قیمت: ۴ آنې
خورؤنکی: د ادبي ټولی صوبه سرحد لوی مرکز بر تاکال
چاپ ځای: منظورعام پریس پیښور
کتابت: فضل داود
ځای: پیښور پاکستان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




کيږ ته د حاجي صاحب لمسئ سيد بشير احمد خان د غازي آباد مشهوره علاقه مهمند ۱۹۹۸ز کال



د ترنګزو حاجي مقبره غازي آباد مهمند ايجنسي پشتونخواء

دا کتاب (۶۴) مخه لري او په مخصوصه د کوزې پښتونخواء په خوږه پشتو لهجه کي ليکل سوی ده. مولف ورته يوه لنډه خو مهمه او په زړه پوري سريزه ليکلي ده. که څه هم، چې کتاب د کمپيوټري (پي دي اف) په پروګرام کي دلته ضميمه ده، خو زه ورنه څه داسي په لنډون خپله تبصره مي هم وړاندې کوم.خپله ملي وجيبه ګڼم، د ګران تاريخي افغانستان داسي ملي قهرمانان او له هغه صف څخه حاجي صاحب د ترنګزو حتی په مکرر انداز کي افغان ځوان نسل ته وځلوو، ځکه هغوی پر مونږ لوی حق د درنښت او ارادت لا پاته ده.

د کتاب په حواله، د دغه افغان ملي قهرمان سيد فضل واحد ولد سيد فضل احمد صاحب د زوکړې نېټه ۱۸۵۶ز کال د پېښور د چار سدې د تحصيل د ترنګزو په کلي کي او د رحلت نېټه يې ۱۹۳۷ز کال د مهمندو د غازي آباد علاقه ښودل سوې، چې په دې حساب هغه جناب (۸۱) کاله ژوند کړئ ده. د هغه مبارزه د فرنګي استعمار او د علم د اشاعت په منظور د ۱۸۹۷ز ځخه د هډې د ملا صاحب حضرت نجم الدين آخوند زاده سره په صف کي پيل سوې ده.(۵مخ) په ۱۹۰۸ز حاجي صاحب د فرنګيانو په ذريعه ونيول سو او دري کاله قيد د زندان ورته تجويز سو، لاکن په ضمانت آزاد کړای شو. هغه په کوزه پشتونخواء کي د بدو ولسي رواجو مثلا د لور او خور د ودولو په هدف د پيسو اخيستل بند کړل. په يوسفزو او هشتګر کي يې ديني مکتبونه جوړ کړل، چې په دغه مهم هدف کي ورسره محمد اکبر خان خادم او خان عبدالغفار خان لاس نيوی او مندې ترړې وکړلې. (۶-۸ مخونه) د صوبه سرحد د حکومت په خواهش حاجي ۲۱ د مارچ ۱۹۱۲ز له مهمندو څخه په آس پېښور ته تشريف راوړو او د «اسلاميه کالج د پېښور» د تاسيس ډېره يې پخپل مبارک لاس کېښودله.(۱۱-۱۲مخونه) حاجي په ۱۹۱۴ز د «حزب الله» تحريک جوړ کړلو، بيا بونير ته ولاړو او د فرنګيانو سره د نظامي مقابلې لپاره يې ۴۰۰۰ کسيز د مجاهدينو لښکر جوړ کړلو. د صوبه سرحد چيف کمېشنر سر جورج روز کيپل هغه ته د مشرانو يوه جرګه د سولې لپاره واستوولې، چې حاجي په هر امتياز، چې هغه يې غواړي، راضي او پېښور ته راولي. دغه مبارز جرګي ته وويل: "که فرنګيان زما رضا کول غواړي، نو هندوستان دي پرېږدي او خپل ملک انګلستان ته دي وځي".(۱۷مخ) حاجي صاحب په کال ۱۹۱۶ز کي له صوات څخه مهمندو ته راغی او د غازي آباد مشهوره محله يې آباده کړله او د کابل امير حبيب الله خان سره يې تعلقات پيدا کړل.(۱۹مخ) په ۱۹۱۹ز کي امير حبيب الله خان ووژل سو او د هغه زوی امان الله خان د افغانستان امير سو. د استقلال جنګ شروع سو او د افغان لښکر ډکي او کُرم پاراچنار ته د فرانګي سره د مقابلې لپاره راغلو. دغه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وخت د ترنګزو حاجي د پېښور د شپږدر د فرنګي عسکري چونې باندې حمله وکړله. په دغه حمله کې حاجي سره د افغانستان یو پلټن (کنډک) عسکر هم موجود وو.[دغه موضوع مهمه ده، چې افغان امیرغازي اعلیحضرت امان الله خان د افغان پوځ څخه یو کنډک عسکر حاجي صاحب ته د دیورند هغه خوا ورلېږلي ول، که څوک دغه مسلې ته معلومات لري، لطفاً ولیکئ... لیکونکئ].(۲۶-۲۷مخونه) په ډکه د افغانستان لښکر د صالح محمد خان سپه سالار د ناپوهي د وجهې شکست وخوړ [د خیبر په جبهه کې د جنرال صالح محمد خان درستیزوال د خیبر د محاذ جنرال محمد ګل خان مهمند ؤ، دوی دواړو د محاذ څخه تېښته وکړله] فرنګیانو ډکه ونیوله او د جلال آباد د نیولو تیارۍ یې شروع کړ. د کابلیانو پلټن [اماني کنډک] شپږدر نه افغانستان ته واپس لاړو. دا وخت حاجي صاحب د هزارناو ته د ډکې د اخیستلو لپاره ولاړ، حمله یې وکړله او د فرنګي لښکر یې د پر مختګ نه ایسار کړلو. د جنګ میدان باسول ؤ.[دلته خبره واضحه سوله، چې په ډکه کې حاجي صاحب د ترنګزو د فرنګي سره جګړه کړې، جلال آباد ته یې نجات ورکړئ او د دوو جنرالانو صالح محمد خان او محمد ګل خان د تېښتې د شرم جبیره یې کړې ده].(۲۷مخ) غازیانو ته خوراکه کافي نه رسېدله، چې غنم پاخه سول، هغو به وریت غنم خوړل. د خوراک د قلت له کبله حاجي صاحب، خپله اسپه حلاله کړله او په غازیانو یې وخوړله. دغه جګړه کې قاضي ګل احمد صاحب، قاري عبدالمستعان، د بابړي ملا صاحب زوی محمود سنجري او بادشاه ګل فضل اکبر [د ترنګزو د حاجي صاحب مشر زوی] ډېره میړانه کړې وه. د مهمندو لښکر د د اوربند تر اعلان پورې د فرنګیانو سره جنګېدلو. فرنګیانو د افغانستان استقلال ومنلو، خپل پوځونه یې بېرته واپس کړل.(۲۸مخ) اعلیحضرت غازي امان الله خان کابل کې لوی دربار اولګولو او بهادرانو ته یې مکافات ورکړل. دربار ته یې حاجي صاحب د ترنګزو هم راغوشتئ ؤ. ورله یې ډېره ځمکه ورکړله، لاکن حاجي غازي امان الله خان ته وویل: «زه فقیر سړی یم ځمکې نه غواړم»، بیا افغان بادشاه د حاجي صاحب د لښکر لپاره د کال دولس زره روپۍ مقرري کړلې.[افغانانو فکر وکړئ، دغه وو زمونږ پلارونه او نیکونه، حقیقي اصلي مجاهدین او صداقتمند مبارزین... او تاسو اوس دا د روس او ناتو د نیواک جهادي مشران او د هغه زماني د انګلیس نیواک د جهادي مشرانو سره مقایسه کړئ] (۲۹مخ) د ګران افغانستان د استقلال د حصول څخه (۲۸ زمري ۱۲۹۸ل) پس هم د حاجي صاحب تر قوماندني لاندې له ۱۹۲۳-۱۹۲۷ز پورې وسله وال جهاد د فرنګي پر ضد په پشتونخوا کې جاري ؤ. دغه ملي قهرمان د غازي اعلیحضرت امان الله خان په وروستئ لویه جرګه منعقده د پغمان (سنبله ۱۳۰۷ل) کې رابلل سوی او مشترک ؤ. حضرت محمود سنجري ۱۹۵۱ز کې د کتاب مولف ته قصه کړې وه، چې: «دغه لویه جرګه کې زه هم حاضر وم. مونږ، چې د ماسختن ډوډۍ وخوړله، نو اعلیحضرت غازي امان الله خان زما پر اوږو لاس واچولو او ځان سره یې یوې کوټې ته بوتلم. هلته حضرت فضل واحد یوازې په مصلی ناست او په عبادت د الله (ج) مشغول ؤ. د اعلیحضرت په مرضي [اجازه]، زه د حاجي صاحب سره ایسار سوم.» (۳۶-۳۷مخونه) [افسوس چې کتاب کې د دغه جالبې خاطرې نور تفصیل نه سته، خو له دغه متن د سنجر صاحب څخه واضحه کېږي، چې دغه محل به هم هغه د لویې جرګې ځای پغمان، ؤ او دلته د پاچا او د حاجي صاحب د في مابین د مینې او ملګرتیا کچه معلومېږي. لیکونکئ] د ترنګزو حاجي په ۱۹۳۰ز کال په میچنئ کې د فرنګیانو سره غزا وکړله، چې دلته سر لښکر د مجاهدینو د هغه مشر زوی بادشاه ګل فضل اکبر ؤ.(۳۷ مخ) ۲۳ د اپریل ۱۹۳۲ز فرنګیانو، چې قصه خوانئ بازار کې ګولئ ورولي وي، د ریګي عبدالرحیم شاعر ورته دغه چار بیته لیکي وه:

څه اور دئ لګېدلای څلور ګُنجه د دنیا کې
د مرګه نه وربېږي ځلمي خو روانېږي غزا لره سمبالېږي
غازي امان الله ؤ رب ج ورکړئ ؤ جمال
هر یو د دین مشال

۱۹۳۱-۱۹۳۲ز حاجي صاحب په حلیمزو د ګنداو کې او ۱۹۳۳ز په کنداو باندې حمله وکړله. فرنګیانو د افغانستان بادشاه غازي امان الله ته رجوع وکړله، چې د حاجي او د هغو تر منځ سوله وکړي، حاجي صاحب د افغان بادشاه په صلاح د فرنګي سره سوله وکړله.(۴۵مخ) په کال ۱۹۳۶ز د ترنګزو حاجي بیمار سو، علاج لپاره کابل ته لاړو. هلته د بادشاه [اعلیحضرت محمد ظاهر شاه] مېلمه شو. شاهي ډاکټرانو نه یې علاج شروع سو. د مودي پس د حکومت موټر کې تر جلال آباد ته راغی. بیا مهمندو [غازي آباد] ته راغلو. په ۱۴ د دسمبر کال ۱۹۳۷ز یې ځان حق ته وسپارله او د وصیت سره سم هم هلته خاورو ته وسپارل سو. (۵۷مخ) د حاجي صاحب د وفات خبر، چې پېښور ته راورسېدلو، پېښور شار او ټول هندوستان کې ماتمي هرتال اوسو او ځای پر ځای ورته غایبانه جنازي وسولې. فرید خان شاعر ورته زبر دسته مرثیه وویله.(۵۸مخ) د ترنګزو حاجي صاحب څخه دري زامن بادشاه ګل فضل اکبر،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فضل شاه صاحب، فضل معبود او دوه لورانې پاته سول. یاد د دغه لوی آزادي پال علم دوست او استعمار ضد مبارز دې تل ژوندی وي.

پایان

مطالب نشر شده از **محمد ایـاز نـوري** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ